بعد از مدتی پدر از سفر بازگشت. پسر اول در صندوقچه را باز کرد. تمام دانه هـا پوسـیده و از بـین رفته بودند. پسر دوم زود به بازار رفت و دانه های تـازه خریـد و بـه نـزد پـدر آورد. پادشـاه کـار او را تحسین کرد. و اما پسر سوم پدر را به باغچه بـرد و گلهـای شـاداب را نشـانش داد و گفـت: بـه زودی همهء گلها تخم تازه خواهند داد و آن دانه ها را به شما خواهم داد.

پدر به هوش و زیرکی پسرسوم آفرین گفت و او را به عنوان ولیعهد خود انتخاب کـرد. زیـرا کـه ایـن دقیقا کاری بود که با دانه گل باید می کرد.

دانه گل برای کاشتن و پرورش دادن و استفاده از زیبایی و عطـر آن اسـت. و درون همـه مـا خداونـد دانه های استعداد های بسیاری گـذارده اسـت. آنهـا را در صـندوقچه نگـذاریم تـا از بـین برونـد. بـه بطالت هم از دستشان ندهیم. بلکه آنها را بکاریم و آبیاری کنیم و پرورش دهیم تا هـر کـدام گیـاهی سبز شاداب و باطراوت شوند. اگر شجاعت به سلطه گرفتن نفس مان را داشته باشیم روزی ایـن گیـاه به گل خواهد نشست. گلی زیبا و معطر! دانه عشق و محبت را در دل بکاریم!

آیا میدانید؟

آیا می دانید که .... هر چه بیشتر کرفس(یک نوع گیاه) بخورید کالری بیشتری می سوزانید!

- آیا می دانید که....عسل تنها غذای طبیعی است که هیچ وقت فاسد نمی شود؟
- آیا می دانید که .... هر فرد سوئیسی سالانه ۱۰ کیلو شکلات مصرف می کند؟
- آیا می دانید که .... پس از نفت، قهوه بیشترین امار خرید و فروش را از آن خود کرده است؟
- آیا می دانید که .... بیشترین آمار آلرژی در کل جهان، حساسیت به شیر گاو می باشد؟
- آیا می دانید که .... توت زمینی تنها میوه ای است که دانه هایش خارج از آن رشد می کنند؟
- آیا می دانید که .... خوردن سیب هنگام صبح شما را بیش از چایی سرزنده و شاداب می کند؟
- آیا می دانید که.... قورباغه ها آب نمی خورند و آب مورد نیاز بدنشـان از طریـق پوستشـان جـذب می شود؟
- آیا می دانید که .... اگر غذا با آب دهان مخلوط نشود به هیچ وجه مزه غذا را متوجه نخواهید شد؟

برای بند شدن ریزش موی تان

۱. استفاده کافیین و سودا در چای را توقف دهید.
۲. در شبانه روز کم از کم شش ساعت استراحت کنید.
۳. پروتین های اضافی و به مقدار زیـاد غـذاهای آهنـی ماننـد جگـر، گوشـت، مـاهی، مسـکه، تخـم، انـواع مختلـف غلـه جـات، سبزیجات، خرما و کشمش را صرف کنید.
٤. از رژیم غذای تان نشایسته و شکر را کم کرده و میوه جـات و سبزیجات را اضافه کنید.
٥. موهای تان را با آب چای، سرکه و یا شربت سیب بشوید.
٦. از مواد نرم کننده موی، روغن موی و یا هم محصولات دیگر استفاده زیاد نکنید و خود را مطمئن بسازید که موهای تان پـاک شده است.
۷. موی های تانرا همه روزه نه، بلکه یک روز بعد بشویید.
۸. زمانیکه موی های تان تر باشد، برس نزنید.
۹. در شامپوی تان روغن اصلی کوهی اضافه کنید.
۱۰. شامپو های که لورل سلفایت سودیم داشته باشـد اسـتفاده نکنید فقط شامپو های طبیعی استفاده کنید.
۱۱. چای را همه روزه بنوشید.
۱۲. ماهی یک بـار بـرای پوسـت سر و موهـای تـان از جوجوبـا و روغن سیاه دانه استفاده کنید.
۱۳. غذاهای را صرف کنید که دارای ویتامینC باشـند، چـون این غذا در جذب آهن کمک میکند.
۱٤. شامپو را همراه با سیلیکا استفاده کنید.
۱٥. از سیلیکا بیشتر استفاده کنید. شما میتوانید مواد سیلیکا را در پوش بیرونی کچالو، مرچ سبز و سرخ و بادرنگ همچنان در لوبیا سبز پیدا نمایید. تمام غذاهای که تـازه و سـبز اسـت صرف کنید.
۱٦. ویتامین ای برای صـحت و نشـونموی مـوی بسـیار ضروری میباشد، یک نوع میوه به نام (اوکـادوس)، مغزیـات و دانـه هـا را صرف کنیـد و روغـن زیتـون را بطـور اساسـی همـه روزه اسـتفاده کنید.
۱۷. در موقع استعمال ملتی ویتامین، ویتامین a خوب است با وجودیکه اندازه زیاد این ویتامین سبب ریزش مو میگردد.

نشه یې توکي د هېواد راتلونکي ته بل ګواښ!

اصلاح رسنیز ګروپ/ نعمت الله عزیزي

د هېواد د پلازمینې کابل په زړه او ځینو نورو سیمو کې د لوړو او دنګو ودانیو په لیدو د هېواد یو ښه راتلونکې ته په زړونو کې هیلې پیدا کېږي، خو که بل خوا د دې ښار په ډېرې سیمو کې په زړو کالیو کې پټ او په نشه ای توکو د روږدو ځوانانو حالت ولیدل شي هیلې په آرمان او افسوس بدلېږي.

دا چې په افغانستان کې په تېرو څوارلس کلونو کې په میلونو ډالره له نشه ای توکو سره د مبارزې او د کوکنارو د کرکیلې د مخنیوي په نامه لاس په لاس شول او په دې برخه کې د نشه ای توکو سره دمبارزې په نامه مستقل وزارت او په لسګونو نورې داخلي او بهرنۍ ادارې کار کوي، خو ورځ تر بلې د کوکنارو کرکیله او په نشه ای توکو د روږدو کسانو شمیرې زیاتوالی مومي.

بسم الله نومي ځوان په داسې حال کې چې زوړ ټوکر یې پر خپل سر غوړولی ؤ، وویل چې ښوونځی مې پای ته رسولی او د اقتصاد په برخه کې مې دوه کاله درس هم ویلي دی، خو ایران ته لاړم هلته مې د کار کولو پر مهال ملا درد وکړ، یوه ایراني را ته وویل چې تریاک وکاروه نو ټول دردونه به دې ورک شي.

دا یوازې بسم الله نه دي چې ځواني یې نشه ای توکو له خاور سره خاورې او ژوند یې ورته ګران کړي دی، بلکې په هېواد کې په زرګونو داسې ځوانان شتون لري چې پر نشه ای توکو روږدي شوي او کور، ژوند، زده کړه او هرڅه یې ورنه اخیستي دي.

ورستیو سروې ګانو هم ښودلې ده چې په افغانستان کې پر نشه ای توکو د روږدو کسان شمیر په زیاتیدو دی. د ملګرو ملتونو د نشه ای توکو اوجرمونو سره د مبارزې ادارې یا (یو، ان، او، ډی، سی) په یوه راپور کې ویلي دي چې په افغانستان کې د زرګونو کوچنیانو او ښځو په ګډون له ۱,۳ میلیونه تر ۱,٦ میلیونو پورې په نشه ای توکو روږدي کسان شتون لري. د دې ادارې په وینا دا شمېره د تېر په پرتله زیاتوالي څرګندوي چې افغانستان به له ګڼو اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره لاس او ګریوان کړي.

له تېرې یوې لسیزې را په دیخوا نړیوالو د افغان حکومت سره د نشه ای توکو سره د مبارزې په برخه کې ګڼې مرستې کړي دي، خو اوس هم دغه هېواد د نړۍ ۹۰ سلنه مخدره توکي تولیدوي، چې کار پوهان هم د کوکنارو د کر زیاتوالی، نشه ای توکو ته آسانه لاسرسی، او د بیکارۍ

زیاتوالی، کورنی او اقتصادي ستونزې په هېواد کې د روږدو کسانو د زیاتوالی لامل بولي.
د ملګرو ملتونو دنشه ای توکو او جرمونو سره د مبارزې اداره همدارنګه وايي چې تېر کال په افغانستان کې په (۲۲۴۰۰۰) هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوي ؤ.
دا ځل مو په نشه ای توکو د روږدو کسانو څه خاطرې او په دې موادو د اخته کېدو لاملونه پوښتلي، د دې تر څنګ مو پر اړوند چارواکو سربېره د روغتون له ډاکټر سره هم خبرې کړې دي چې مهم ټکې يې له تاسو درنو سره شريکوو.

په نشه ای توکو ولې روږدی شوې؟

جمعه ګل چې ځان د لوګر ولايت اوسيدونکی را پېژني، له دې مخکې يې نشه ای توکي کارول، خو په خبره يې له دوو مياشتو راهيسې يې پرې ايښي دي.
جمعه ګل په داسې حال کې چې په خپله ګډه وډه ږيره يې لاس راکش کړ وويل: "په ايران کې مو درانه کارونه کول، نو د ځان د آرامولو لپاره مو دنشه ای توکو کارولو ته مخه کړه او نژدې لس کاله کېږي چې دا توکي مې کارول، خو اوس له دولت نه خوشحاله يم چې په تدواي کې يې راسره مرسته وکړه."
جمعه ګل همدارنګه له ځوانانو او هغو کسانو څخه چې په نشه ای توکو روږدي دي هيله کوي چې د خپل دښمن (نشه ای توکو) سره کلکه مبارزه وکړي او هيڅ کله هم نشه ای توکي ونه کاروي، د نوموړي په وينا نشه ای توکي داسې يو دښمن دی چې وسله نه لري او د چا وينه نه تويوي خو له منځه يې وړي.
جمعه ګل په داسې حال کې چې له مايي هم د کار موندلو هيله کوله وويل: "آمر صيب که په دولت کې راته دنده پيدا کړې زه به د کوکنارو بوټي له بيخه باسم او له منځه به يې وړم" نوموړی څرګندوي چې که چېرې ورته کار پيدا شي، د ډېرو خلکو ژوند به وژغوري او د دې جوګه دی چې په وياړ سره خپل هېواد ته خدمت وکړي.
جمعه ګل همدارنګه د کشفي ارګانونو څخه ګيله مند دی چې د نشه ای توکو د له منځه وړلو په برخه کې خپل مسؤوليت په سمه توګه نه اداء کوي، نوموړي په ګيله منده او معصومانه لهجه راته وويل چې په ډېرو ځايونو (لکه باغ علی مردان څلويښت متره، شهداء او ځينو نورو سيمو) کې خلک دا توکي خرڅوي او د پوليسو د ګزمې موټر راځي او خپل حق له خرڅونکي اخلي او بېرته ځي.
نوموړی د پوليسو او خلکو له چلند نه هم راضي نه دی او ګيله کوي چې ورسره سمه رويه نه کېږي.
محمد هارون هم چې ځان د بغلان ولايت اوسيدونکي او له دې مخکې ځان د نان بای شاګرد راپېژني، په داسې حال کې چې زړه پلاستيکي بوجۍ يې په سر اچولې وه وويل: "د کار په وخت کې له نا سالمو ملګرو سره وم چې د سګرټو له څښولو نه مې شروع وکړه او ورو ورو په پوډرو باندې واوښتم."
محمد هارون په داسې حال کې چې د کانتينر سيوري ته ولاړ او په نسبتاً ګرمه هوا کې لړزيده، وويل: "نژدې يوه مياشت د سمنګان ولايت په شل بيستريز روغتون کې بستر وم خو وروسته له هغه مې بيا نشې ته مخه کړې ده."
هارون هم له پوليسو شکايت کوي چې ورسره سمه رويه او چلند نه کوي، او هميشه يې ځوروي، او هغه کسان چې نشه ای توکي راوړي که ورته حق ورکړي نو هيڅ هم ورته نه وايي او دغه توکي هر ځای پيدا کېږي.
محمد هارون په داسې حال کې چې په آواز کې يې خفګان او پښيمانۍ څرګندیده وويل: "ځوانانو ته دا پيغام لرم چې له بد عمله ملګرو سره ونه ګرځي، د نوموړي په خبره شب ګردي ونه کړي، خپل درسونو او تعليم ته پاملرنه وکړي، زموږ له بد حالت نه دې پند واخلي."
محمد هارون د افغان حکومت له مشرانو هم ګيله لري چې د کمپاينونو پر مهال يې له نشه ای توکو سره د مبارزې کلکه ژمنه کړې وه، خو تر اوسه يې کوم جدی کار نه دی کړی، نوموړي غوښتنه کوي چې بايد هغه عمده خرڅلاو ځايونه وتړل شي چې نشه ای توکي خلکو باندې پلوري.
د سړک پر غاړه يو څنګ ته يوازې پر خاورو لړلي پطلون کې ناست ؤ، زما په ورتګ سره حيران شو. ويل يې چې پر خپلو پښو ودرېدلی نه شم، ځان يې محمد حسين د باميانو ولايت اوسيدونکي را وپېژندلو چې کله مې د نشه ای توکو د کارولو په هکله ترې وپوښتل ويې خندل او راته يې وويل چې د ايران په تهران ښار کې يې غريبي کوله، ملګرو يې نشه اي توکو ته تشويق کړ او له لسو کلو ډېره موده کېږي چې نشه ای توکي د دودولو له لاري کاروي.
نوموړی څرګنده وي چې همدلته ورته نشه ای توکي راوړل کېږي، محمد حسين دا هم وايي چې همدلته په کابل کې د تداوي لپاره روغتون ته تللي ؤ، خو وروسته له بستره يې بېرته نشه ای توکو ته مخه کړې ده.
محمد حسين له خپل اوسني حالت نه خوښ نه ؤ او وويل يې چې دا ښه حالت نه دی او له حکومت نه يې د درملنې او د نشه ای توکو د له منځه وړلو غوښتنه کوله، د نوموړي په باور چې کله دغه توکي له منځه ولاړشي

نو خلک به هوسا او آرام شي. محمد حسین همدارنگه لـه خپلـو همځولـو غوښتنه لري چې هیڅکلـه نشـه ای توکي ونه کاروي.

بسم الله چې ځـان د بغـلان ولایـت اوسیدونکی معرفی کوي؛ په داسې حال کې چې زوړ ټـوکر یـي پـر سر غوړولی ؤ، وویل: "ښوونځی مې پای ته رسولی او د اقتصاد په برخـه کـې مې دوه کاله درس هـم ویـلي ؤ، خـو ایران ته لاړم هلته مې د کار کولو پر مهال ملا درد وکـړ یـو ایـراني را تـه وویـل چـې تریـاک وکـاروه نـو ټـول دردونه بـه دې ورک شي، نـو بیـا لـه همغې راهیسـې پـر دې بـلا روږدی شوم."

بسـم اللـه چـې لـه څوارلسـو کلونـو راهیسـې پـر نشـه ای توکـو روږدی دی، وایي چې د جنګلک روغتون ته څو څو ځلـې تللي یـم، خـو هغـوی د ضمانت غوښتنه کوي، چې ورونه مې راسره مرسته نه کوي او هـر یـو پـر خپل کار اخته دی.

بسم الله په داسې حال کې چې په یو کاغذ کې یي تور رنګ مواد نغاړل زیاته یې کړه چې د باغ علی مردان په سیمه کې یـو کـس دی چې ټول یې پیژني او په کورنیـو چـارو وزارت کـې اوس هـم دنده لري، او نشه ای توکي هم پلوري. بسم الله هم د پولیسـو لـه چلند نه سر ټکوي او وایي چې کله نا کله یې په نه خبره ډبوي او له یو ځای نه یې بل ځای ته ځغلوي.

بسم الله چې سترګې یې له اوښکو ډکـې وې، وویـل: "هیلـه لـرم چې له دې بدبختۍ نه خلاص شم او خپل ژوند ته بیرته وګـرځم." نوموړی له حکومت نه غواړي چې باید د نشه ای توکـو سره کلکـه مبارزه وکړي او مخه یي ونیسي.

بسم الله چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې، وویل: "هیله لرم چې لـه دې بدبختۍ نه خـلاص شـم او خپـل ژونـد تـه بیرتـه وګـرځم." نومـوړی لـه حکومت نه غواړي چې باید د نشـه ای توکـو سره کلکـه مبـارزه وکـړي او مخه یي ونیسي.

ولې هر کال د معتادینو شمیره لوړیږي؟

ډاکټر حکیم الله صالح چې د افغانستان د رواني ناروغانو او معتادینو په روغتون کې د متخصص ډاکټر په توګه کار کوي، په دې هکله وایـي چـې ریښتیا هم زموږ سروې ګانو هم ښودلې ده چې هرکال په نشه ای توکـو د روږدو کسانو شمیر لوړیږي، او ستر لامـل یـې دا ګڼـي چـې د معتـادینو لپاره مشخصه ستراتېژي او برنامه شتون نه لري.

ډاکټر حکیم الله صالح په دې اند هـم دې چـې تـر هغـو د قاچـاق برانـو هڅې کنټرول نه شي او د دې کاروبار مخه یې ونه نیول شي، نـو لـه نشـه اي توکو سره مبارزه نه شي کیدلی، هغه زیاتوي چې په لوړه کچه نشه ای توکو ته آسانه لاسرسـی د دې لامـل شـوې چې هر کـال د روږدو کسـانو شـمېر لـوړ شي.

د صالح په اند چې ډېری افغـان معتـادین په ګاونډي هېواد ایران کـې پـه هیروینـو روږدي شوي دي، او دلیل یې دا بولي چې پـه هغـه هېـواد کـې دکـار خاونـدان لـه کارګرانو نه د ډېر کار اخیستلو پـه موخـه هغـوی پـر دې روږدي کـوي، همـدا راز ایران کې د نشه ای توکـو د سـوداګرو یـو غټ بـازار دی او لـه دې لارې ډېـره ګټـه لاسته راوړي.

ډاکټـر صـالح نیوکـه کـوي چـې پـه هغـو مرکزونو کې چـې د معتـادینو د درملنـې لپـاره جـوړ شـوي دي د معتـادینو عمـده غوښتنو ته ځواب نه ویل کېږي او شرایط ورته مساعد نه دی.

نوموړي ډاکټر په دې اند دی چې په نشه د روږدو کسانو له درملنې وروسته باید هغه ته کار پیدا شي، تر څـو بیـا نشې ته مخه نه کړي. خو په وینا یي د کـار نـه شـتون او پـه کورنیـو کـې ورسره نا سم چلند د دې لامل ګرځي چې له درملنې وروسته هم دا کسان بیرته نشه ای توکو ته مخه کړي.

محمد حنیف دانشیار له نشه اي توکو سره د مبـارزې وزارت د اطلاعـاتو او عامه اړیکو ریاست مشر ومنله چې د ورستیو سروې ګانو پر اساس پـه نشه ای توکو د روږدو کسانو شمیر زیات شوي دی. خو نوموړي یې لامل د کار نه شتون، وزګارتیا او د هېواد روان ناوړه حالت پر ګوته کوي.

ښاغلی دانشیار د خواشینۍ په څرګندولو سره وایي چې په دې وروسـتیو کې حتی ښځو او ماشومانو هم نشې ته مخه کړې ده چې د نشه ای توکـو سره نږدې والی او د کوکنارو په لوړه کچه کرکیله یـې لـه عمـده لاملونـو څخه دي.

له نشه اي توکو سره د مبارزې وزارت د عامه اړیکو رئیس محمد حنیـف دانشیار په دې هکلـه چـې د شـته روږدو کسـانو د درملنې او د نـورو د مخنیوي لپاره تر کومه کار شوی دی او په راتلـونکي کـې پـه دې اړه څـه پلان تر لاس لاندې دی؟ وویل: "له نشه اي توکو سره د مبارزې وزارت په ۲۸ ولایتونو کې له دیرشو زیات روغتیایي مرکزونه جوړ کړي دي، او پـه راتلونکی کې به لوی روغتیایي مرکزونه (کمپلکس) د هېواد په ګڼو برخو کې پر کار پیل وکړي، چې د معتادینو پر درملنې سر بیره به دحرفـه یـې زده کړو زمینه هم ورته برابره شي."

د ښاغلی حنیف دانشیار په وینا دعامه پوهاوي پروګرام په دوامدار ډول سره په کلیو او بانډو کـې د بـېلا بېلـو غونـډو او مجلسـونو لـه لـوري پـر

جوماتونو، ښونځيو، رسنيو، او د تياتر د نمايشنامو لـه لارې پـه لار اچـول شوی دی.

ولې د نشه اي توکو د سوداګرو پر ضد جدي اقدام نه کېږي؟

ډېری پر نشه ای توکو روږدي کسان ادعا لري چې د کابل په ښار کې ډېر داسې مرکزونه شتون لري چې نشه اي توکي پلوري او پولیس هم یوازې د څه پیسو په مقابل کې ورته کوم ګواښ نه کوي، اصلاح رسنیز ګروپ لـه معتادینو سره په خبرو کې وموندله چې د کابـل پـه مشـهوره سـیمه بـاغ علی مردان کې داسې مرکز شتون لري چې د پولیسو د سترګو پر وړاندې نشه اي توکې پلوري او دهغوی په وینا د پولیسو اړونده کسانو تـه پیسـې ورکوي، او د مرکز مشر هم په کورنیو چارو وزارت کې دنده لري. له نشه ای توکو سره دمبارزې وزارت د اطلاعاتو او عامـه اړیکـو ریاسـت رئـیس ښاغلی محمد حنیف دانشیار په دې هکله وايي چې کورنیو چـارو وزارت ورته ډاډ ورکړی چې لـه نشـه اي توکـو سره د مبـارزې پـه برخـه کـې بـه مرسـته کـوي، ښـاغلی دانشـیار زیـاتوي چـې د کورنیـو چـارو وزارت منسوبینو په تېرو کلونو او میاشتو کې د نشه اي توکو ګڼ شمېر کـوچني پلورونکي نیولي دي چې له لویو او سترو قاچاق برانو سره تړاو لري.

دانشیار دا ډاډ هم ورکوي چې له کورنیو چارو وزارت سره له نـږدې کـار کوي، تر څو له نشه اي توکو سره کلکه مبارزه ترسره شي.

همدارنګه له نشه ای توکو سره د مبـارزې عـدلي او قضـايي اداري ویانـد محمد خالد مؤحد وايي چې دغه اداره د جرایمـو او نشـه اي توکـو سره د ځانګړي قانون له مخې به له هر هغه چا سره قانوني چلند وکړي چـې لـږ تر لږه د ۲ کیلو ګرامه هیروین، یا موروفین، ۱۰ کیلوګرامه تریاک، له ۵۰ کیلو ګرامه ډیر چرس، ۵۰ لیـتره الکـولي مشرـوبات او لـه ۵۰ کیلـو ډېـر جامد او یا مایع کیمیاوي موادو پر انتقال یا پلورلو تورن شي.

ښاغلی مؤحد همدارنګه څرګنده وي چې په تېر (۱۳۹۳المریز) کال کې تر ۵۲۹ ډېرې قضیې ورته رسیدلې دي چې ۷۳۳ تنه پکې تـورن وو، چـې پـه ۱۳ پېښـو کـې د عامـه خـدمتونو کـارکوونکي (پولیسـو، کشـفي، او نـورو مربوطه ارګانونو) تورن پیژندل شوي وو.

د ښاغلی مؤحد د معلومات پر اساس په دې قضیو کې ۳ ټنه هیروین، لـه ٦ ټنو زیات تریاک، او مورفین، له ۳۱ ټنـه ډېـر چـرس، لـه ۲۴ ټنـو زیـات کیمیاوي مواد، لـه ۲۹زره لیـتره زیـات الکـولي مشرـوبات، او د شـلو پـه شاوخوا کې د هیروینو لابراتوارونه کشف او له منځه وړل شوي دي.

د نوموړي په باور د خلکو مرسته او همکاري د نشه اي توکو د پلور او پیر په هکله ډېره اړینه ده او باید هر کس خپـل دینـي او ټـولنېز مسـؤولیت اداء کړي، ترڅو دې ټولنیزې ناخوالې ته د پای ټکی کېښودل شي.

محمد خالد مؤحد له نشه اي توکو سره د مبارزې د عدلي او قضايي مرکز په استازیتوب ډاډ ورکوي چې که چېرې د هـر زور واکـي دوسـیه چـې د نشه ای توکو په برخه کې تورن وي ورته ورسېږي، په پـوره شـفافیت سره به یې وڅېړي، چې د نوموړي په خـبره پـه تېـر کـې یـې هـم د زونونـو او ولایتونو دقومندانانو او ګڼو چارواکو او مسؤولینو دوسیې څېړلـې دي او مجرمین په جزا محکوم شوي دي، ښاغلی مؤحـد همدارنګـه ډاډ ورکـوي چې هیڅ ګناه کار او مجرم به بې ګناه ونه پیژندل شي.

نوی حکومت او نوې مبارزه:

په تېرو څوارلس کلونو کې له افغان حکومت سره نړیوالو مرسته کوونکـو د نشه ای توکو سره د مبارزې په هکله ګڼې مرستې وکړې، خـو نیوکـه دا کېږي چې پـه دې برخـه کـې اړیـن کـار تـرسره نـه شـو، اوس چـې نـوی حکومت په افغانستان کې منځ ته راغلي آیا دوی بـه کـوم جـدي کـار لـه نشه اي توکو سره د مبارزې په برخه کې وکړي؟

ډاکټر حکیم الله صالح چې د معتادینو او رواني ناروغیو پـه یـو روغتـون کې دنده اجراء کوي په دې هکله باور لري چې د نوي حکومت لـه راتـګ سره مخکني ستراتیژي چې د معتادینو د خوب خونو او یا روغتونونـو تـه پاملرنه زیاتول ؤ، له پامه غورځول شوې ده، خو اوس داسې ستراتېژي او پـلان جـوړ شـوی دی چـې دهېـواد پـه ګڼـو برخـو کـې د عامـه پوهـاوي پروګرامونه تر لاس لاندې ونیول شي، تر څو هر معتاد وکولای شي په هـر ځای کې تداوی شي.

د نوموړي په اند دا چې دا یو پراخ پروګرام دی او اړونده ادارې بـه پکـې برخه ولري، نو دا یو ښه اقدام بلل کېدای شی چې له معتادو کسـانو سره به په درملنه کې مرسته وکړي او د نورو خلکـو د روږدي کېـدو مخـه بـه ونیسي.

ښاغلي ډاکټر اندیښنه څرګندوي چې که چېرې د نشه ای توکو مخه ونـه نیول شي، دا به د هېواد لپاره ګڼې ستونزې و زیـږوي او نـاوړه پـایلې بـه ولري.

همدارنګه له نشه ای توکو سره د مبـارزې وزارت د عامـه اړیکـو ریاسـت رئیس محمد حنیـف دانشـیار وایـي چـې مـوږ خپـل غـږ د ملـي یـووالي حکومت لوړ پوړو چارواکو ته رسولی دی او داسې ښکاري چې چـارواکي هم نشه اي توکو ته د جدي ګواښ په سترګه ګوري.

د ښاغلي دانشیار په باور له نشه اي توکو سره د مبارزې وزارت خپل کـار په سمه توګه ترسره کوي، خو د نوموړي په اند اړینـه ده چـې پـه مـلي او بین المللي کچه نشه ای توکي د جدي خطر په توګه وپیژنـدل شي او پـر ضد یې مبارزه وشي.

په داسې حال کې چې (سیګار) یا د افغانسـتان د بیـارغونې څخـه د څـار امریکایي ادارې د خپل تېر کال په یوه راپور کې ویلي ؤ چـې لـه نشـه ای توکو سره د مبارزې په لاره کې یې ۸ میلیارده ډالره لګولي دي، خو له دې سره افغانستان اوس هـم د نـړۍ ۹۰ سـلنه نشـه اي تـوکي تولیـدوي او د تولیدونکو هېوادونو په سر کې ځای لري.

مسؤول تراژدی بدخشان کیست؟

دکتور عنایت الله خلیل هدف

اول باید پذیرفت که همه مسؤولند؛ اما مسؤولیت ها متفاوت است. من برخلاف دیگران در اینجا به شکایت از دشمن نمی پردازم.. از دشمن توقعی جز دشمنی نباید داشت.. از خارجی ها و توطئه های آنان نیز نباید شکایت کرد.. بار ملامت را به دولت مرکزی هم نباید انداخت.. طبعا مردم هم مسؤول نیستند.. پس مسؤول اصلی کیست؟ مسؤولان مستقیم و درجه اول اینها هستند:

ادارۀ محلی ولایت:

ادارۀ محلی وظیفه دارد نظم و امنیت و قانون را در سطح کل ولایت برقرار کند، تا مردم به زندگی انسانی دست یابند. آیا ادارۀ محلی بدخشان در مدت گذشته تا حال به این مسؤولیت پرداخته است؟ نه خیر. سالها ست که فساد گسترده در مرکز و ولسوالی های بدخشان بیداد می کند و شکایت و فریاد مردم بلند است: تقرر مسؤولین و مامورین فاسد و بی کفایت.. چور و چپاول دارایی های عمومی و خصوصی.. قاچاق و تجارت مواد مخدر.. دزدی و رشوت و غصب و سرقت.. تهدید و تحقیر و لت وکوب و قتل مردم.. گسترش فساد اخلاقی و تجاوز به ناموس مردم.. رکود و جمود معارف وعدم توجه به درس و تعلیم در مکاتب.. دزدی و دستبرد پروژه های همبستگی.. فقر و بیکاری مرگبار... وصدها موارد دیگر که ذکر آن طولانی و درد آور است... پس تشکیلات و ادارات متورم ولایت، امنیت ملی، قوماندانی امنیه، ریاست معارف.. ولسوالها و تشکیلات آن و... با امکانات و امتیازات دولتی در این موارد چه کاری را انجام می دهند؟!

چرا جرأت و شهامت تطبیق قانون و کنترول ادارات را ندارند؟! اگر خود فاسد و بی کفایت نیستند چرا این همه فساد را دیده و دانسته قبول می کنند و جرأت و شهامت کنار رفتن از وظیفه را ندارند؟! چرا به مردم مراجعه نمی کنند تا افکار عامه و تأیید مردم را در مبارزه با فساد و مفسدین بسیج سازند... واضح است که خود مسؤولین رده های بالای ادارۀ محلی شریک فساد هستند.. یک نمونه از فساد آشکار همین اعطای سند فراغت صنف دوازدهم برای یک ولسوال که به شهادت عام مردم یک روز به مکتب نرفته و بی سواد مطلق است که مقام (!) ولایت و ریاست معارف ولایت نظر به اسناد منتشر شده در رسانه های عمومی و ارتباط جمعی گویا سال جدید را با همین مکتوب جعل و تزویر وفساد آغاز نموده اند؟! آیا بی کفایتی و بی قانونی و بی حیایی و بازی به معارف و تعلیم و تربیه از این بالاتر سراغ خواهد شد؟؟!!

در همین تراژدی تکان دهنده و بی سابقۀ «خستک» کجا بود اطلاعات و تدابیر و آمادگی های ادارۀ محلی: (ولایت، امنیت، قوماندانی امنیه، اردو و...) که در سطح دولت قادر به کشف و تدبیر و پیشگیری و اقدامات عملی به وقت نگردید؟! دست اندرکاران این ادارات و تشکیلات باید بدانند که آنان حاکم و بادار مردم نیستند که این وظایف و امکانات و امتیازات را غنیمت و سرقت کنند، بلکه آنان مزدوران و خدمت گذاران مردم اند.. باید در مقابل این تراژدی جوابگو باشند.. محاسبه شوند تا به این وحشت و بربریت و بی قانونی و

چرا جرأت و شهامت تطبیق قانون و کنترول ادارات را ندارند؟! اگر خود فاسد و بی کفایت نیستند چرا این همه فساد را دیده و دانسته قبول می کنند و جرأت و شهامت کنار رفتن از وظیفه را ندارند؟! چرا به مردم مراجعه نمی کنند تا افکار عامه و تأیید مردم را در مبارزه با فساد و مفسدین بسیج سازند... واضح است که خود مسؤولین رده های بالای ادارۀ محلی شریک فساد هستند

بی کفایتی پایان داده شود... در غیر آن نظر به فرمودهٔ پیامبر گرامی اسلام « سپردن امور مردم به افراد نا اهل وبی کفایت سبب فروپاشی نظام حیات است» که اکنون ملک و مردم به آن مواجه هستند...

وکلای مردم:

مسؤول درجه دوم تراژدی و مصیبت های بدخشان وکلای مردم در (مجلس نمایندگان، مجلس سنا، شورای ولایتی) هستند. می دانیم که در میان وکلا اشخاص با احساس و دلسوزی است، اما به حکم مسؤولیت نمایندگی از مردم همه در این تراژدی ها شریک هستند.

آیا این وکلای محترم مفهوم نمایندگی از مردم را درک و عملی کرده اند؟ مفهوم نمایندگی از مردم این نیست که با اعمال «زر و زور و تزویر» رأی مردم را بگیرید و سپس بر سرنو شت مردم بازی کنید. مسؤولیت و امانت نمایندگی از مردم تقوا و فدا کاری و خود گذری است... قانون گذاری و قانون مداری است... مشوره با مردم و خدمت گزاری است... ایجاد وحدت و همبستگی میان مردم است... رساندن احتیاجات و درد و رنج مردم به حکومت و حل مشکلات مردم است.. کنترول عملکرد ادارات محلی است.. جلو گیری از فساد و فحشا و رذایل اخلاقی است... جلوگیری از ترویج و قاچاق مواد مخدر است.. رشد و تقویت معارف و تعلیم و تربیه است.. شما وکلای محترم به کدام یکی از این وظایف و مکلفیت های مردمی تان رسیدگی کرده اید؟! مردم زندگی شما را قبل از وکالت و بعد از وکالت خوب می دانند.

آیا وظیفهٔ شما همین بود که انجو سازی کنید وثروت باندوزید؟! خویش و تبار و دلقک های خود را در وظایف حکومتی بگمارید؟! در تجارت و قاچاق مخدرات شریک شوید؟! بر منابع و سرمایه های عامه دست یابید؟! میان مردم به گونه های مختلف تفرقه و جنگ و خونریزی ایجاد نمایید؟! شما حتی میان خود نتوانستید وحدت و هماهنگی ایجاد نمایید؟! چنان مست و مغرور خواسته ها و منافع و معاملات خود شدید که در طول دوره های وکالت تان حتی یکبار هم نتوانستید دور هم جمع شوید و فکر و تصمیم مشترک ایجاد نمایید.

شما مسؤول بخش اعظم مصیبت های بدخشان هستید. شما یک بار هم به مردم مراجعه نکردید. یکبار هم از علما و اهل فکر و وتجربه و جوانان بدخشان در سطح ولایت و مرکز مشوره طلب نکردید تا همراه با رأی و نیروی مردمی از مراجع حکومتی طالب حل مشکلات روز افزون بدخشان شوید. دیدار ها و ملاقات های شما با وزرا و مسؤولین دولت بیشتر سری وشخصی و منفعتی بود.

شما که اکنون بر سر پیکرهای خونین قربانیان خستک «اشک تمساح» می ریزید، آیا کسانی از شما همین جنگهای وردوج را جنگهای منافع خود تان تعبیر وتفسیر نمی کردید؟! مسؤولیت شما با خود نمایی در پارلمان و رسانه ها و شعار های احساساتی و گذاشتن پیامها در فیسبوک هایتان ادا نمی شود.. از خدا بترسید و امانت «وکالت» را که در نزد خداوند ندامت وشرمساری است خیانت نکنید! اگر واقعا راست می گویید اول میان خود جور بیایید و سپس نخبه گان بدخشان را فراخوانید و برای برون رفت از بحران موجود طرح و عمل مشترک بگیرید.. فاعتبروا یا اولی الابصار!

> «در همین تراژدی تکان دهنده و بی سابقهٔ «خستک» کجا بود اطلاعات و تدابیر و آمادگی های ادارهٔ محلی: (ولایت، امنیت، قوماندانی امنیه، اردو و...) که در سطح دولت قادر به کشف و تدبیر و پیشگیری و اقدامات عملی به وقت نگردید؟! دست اندرکاران این ادارات و تشکیلات باید بدانند که آنان حاکم و بادار مردم نیستند که این وظایف و امکانات و امتیازات را غنیمت و سرقت کنند، بلکه آنان مزدوران و خدمت گذاران مردم اند... باید در مقابل این تراژدی جوابگو باشند.. محاسبه شوند تا به این وحشت و بربریت و بی قانونی و بی کفایتی پایان داده شود»

روښانه راتلونکی

باکیفیته معارف غواړي!

دکتور رحمت الله زاهد

زمونږ په گران هیواد افغانستان کې د لمریز کال لومړۍ ورځ د معارف د ورځې سره سمون خوري. پدغه ورځ د سړو سیمو د رخصتیانو د پای ته رسیدو او د نوي تعلیمي کال د پیل د خوښیو له امله په ټول هیواد کې عامه رخصتي وي. د مکتب زده کوونکي خپلو مکتبونو ته د تللو او نوي شاگردان په مکتبونو کې د داخلې لپاره چمتووالی نیسي، چې هر کال په سلگونو زره نوي کوچنیان مکتبونو ته لاره پیدا کوي، تر څو خپل ځان د پوهې په گاڼه سمبال او د هیواد او ملت د خدمت جوگه شي.

تعلیم او تربیه د یو هیواد او ملت په پرمختگ کې تر ټولو اساسي وسیله ده. د هیواد پرمختگ او د ملت هوساینه په یو پیاوړي، قوي، باکیفیته معارف پورې تړلې ده. څومره، چې د معارف سیستم پیاوړی، د ملت د غوښتنو او اړتیاوو سره سم او د هیواد د چاپیریال سره برابر وي، هم پدغه اندازه یې د هیواد او ملت په پرمختگ کې پایله مثبته او اغیزه یې ډیره وي.

هر دولت د خپل ملت د ارزښتونو او هیواد د چاپیریال په نظر کې نیولو سره د معارف سیستم جوړوي او وخت تر بله د اړتیاوو له مخې په هغې کې بدلون راولي. پرمختللي هیوادونه د نورو له ښو تجربو څخه گټه اخلي او د هغوی تجربې د خپل ملت او هیواد د اړتیاوو په قالب کې اچوي، محلي کوي یې او بیا د پوره ارزونې وروسته یې گټې اختستنې ته چمتو کوي.

د ملت د فکر په جوړولو، د اخلاقو او اعمالو په سمولو، د ارادو په پخولو او د عزمونو په پیاوړي کولو کې د تعلیم او تربیې رول له بلې هرې وسیلې ډیر دی. همدا لامل دی، چې اسلام خپل دعوت له (اقرأ) څخه پیل کړ او دغه (اقرأ) په درویشتو کلونو کې نړۍ ته یو داسې ملت وړاندې کړ چې د انسانیت په ټولو معیارونو پوره، د تهذیب او تمدن لوړه نمونه او د بشریت د لارښوونې لپاره په پشپړه توگه جوگه و.

نن هم چې مونږ په نړۍ کې په مادي او معنوي لحاظ کوم پرمختللي ملتونه گورو، هرو مرو یې شاته د معارف یو داسې پیاوړی سیستم کار کوي، چې د هغه ملت د ډیرو سترو مغزونو لخوا تیار او د مخلصو بچیانو لخوا پرمخ بیول کیږي.

زمونږ په هیواد کې هم معارف ته ډیره ستره بودیجه ځانگړې کیږي، په ملیاردونو ډالر د معارف په پرمختگ مصرف کیږي. هر کال په تیره بیا په وروستیو څوارلسو کلونو کې د معارف د پرمختگ لپاره ډیرې هڅې وشوې، د مکتبونو لپاره په زرگونو تعمیرات جوړ شول، په سلگونو زره ښوونکي په کار وگومارل شول، په ملیونونو شاگردان مکتبونو کې شامل شول او د ظرفیتونو د لوړولو او د معارف د سیستم د پیاوړي کولو لپاره په زرگونو سیمینارونه او کانفرانسونه جوړ شول.

خو هغه څه چې تر سترگو کیږي هغه ورځ په ورځ د کیفیت په لحاظ د معارف وروسته پاتې کیدل دي، معارف لکه د دولت د نورو ادارو په څیر د رشوت، فساد، اختلاس او بې کیفایتۍ ښکار کیدل دي. تر ډیره د مسلکي مدیرانو او مخلصو ښوونکو نه شتون د معارف سیستم د گواښونو سره مخ کړیدی، د دولت لخوا ښوونکو ته د کم معاش ورکولو، د تعلیمي بهیر د نه څارلو، او د بې ځایه کاغذي فعالیتونو له امله په کیفي لحاظ معارف د جدي ستونزو سره مخامخ دی.

د معارف د بې کیفیته سیستم څخه فارغ ډیری شاگردان د عالي تحصیلاتو په لاسته راوړلو کې له ډیرو ستونزو سره مخ کیږي. په سلگونو زره شاگردان د کانکور په امتحان کې بې نتیجې پاتې کیږي او بریالي شاگردان د تحصیلي دورې په پرمخ وړلو کې ډیرې ستونزې لري، سره لدې چې د عالي تحصیلاتو سیستم هم د معارف د سیستم څخه ښه نه دی.

لدې امله دولت او ملت باید د معارف اهمیت او ارزښت ته قایل او د سمولو لپاره یې جدي گامونه پورته کړي. د کمیت پر ځای باید کیفیت ته پاملرنه وشي، نصاب د افغانستان د چاپیریال او د ملت د دیني او ملي ارزښتونو سره سم تیار شي، د نورو هیوادونو د تعلیمي نصاب څخه د خپلو اړتیاوو په نظر کې نیولو څخه گټه پورته شي، د معارف د پرمخ بیولو لپاره مخلص او مسلکي کدرونه وروزل شي، متخصص استاذان وگمارل شي. په مکتبونو کې دې د پوهنې او روزنې لپاره درست چاپیریال اماده کړل شي، دښوونکو معاشونو دې لوړ شي تر څو د هغوي اړتیاوې پوره او په نورو کارونو بوخت نه شي. د مدیرانو او ښوونکو په تعیین کې دې د پوره دقت څخه کار واخستل شي. د امتحان اخستنې او ارزیابۍ پروسې ته دې جدي پاملرنه وشي او د معارف د نظام څخه دې د رشوت، فساد، اختلاس، خپلوۍ پالنۍ او داسې نورو مرضونو ټغر ټول کړل شي.

که د یو پیاوړي معارف خاوندان شو، ډیر زر به د یو پرمخللي افغانستان او هوسا ملت خاوندان شو او که د معارف حال مو دا وي لکه چې اوس یې په خپلو سترگو گورو، د پرمختگ او هوساینې خوب به مو هیڅ کله هم تعبیر بیا نه مومي.

روزی به نام هرات!

احمد فرید فرزاد هروی

هرات باستان، شهری که زمانی به نگین خراسان مشهور بود، زادگاه اندیشمندان، علماء و عرفای بزرگ، سرزمین خواجه عبدالله انصاری و امام فخر رازی که دارای پیشینه تمدنی و فرهنگی در درازنای تاریخ است. این شهر را شهر علم، فرهنگ و ادب نامیده اند. این شهر اکنون از جمله هزار شهری است که یونسکو مرکز علمی فرهنگی سازمان ملل متحد، بنا بر ارزش های تاریخی فرهنگی اش، آن ثبت کرده است.

هرات یکی از شهرهای مهم و بزرگ افغانستان است. مرکز مهم اقتصادی که با داشتن دو بندر تجارتی و موقعیت سوق الجهشی در کشور از اهمیت زیادی برخوردار می باشد.

تجلیل و گرامیداشت از این گهواره ی تمدن امری بسیار پسندیده و نیک است. در این اواخر اقداماتی از سوی طیف هایی از این سرزمین، امیدهایی را برای گرامیداشت این شهر بر انگیخت و بر آن شدند تا روزی را به نام هرات تعیین و آن را تجلیل نمایند. طبعاً چنین روزی می بایست با روحیه ی مردمی و شرکت گسترده ی مردم همراه باشد و در آن از میراث فرهنگی، تاریخ، علم و ادب این سرزمین یادبود می شد تا هرات را با آنهمه ارزش و گرانمایه گی اش برای سایر هموطنان کشور و سایر کشورها به معرفی و نمایش بگذارد.

اما متاسفانه آنچه مردم ما شاهد برگزاری این جشن بودند، نه هویت مردمی داشت و نه تمدنی و فرهنگی؛ بلکه بیشتر به یک جشن سلیقه ای و مهمانی شخصی شباهت داشت تا جشن مردمی و محلی؛ در این جشن که میبایست تمامی اقشار مردمی در آن شرکت داشته باشند، تنها عده ای از دولتمردان، ثروتمندان و اشراف زاده گانی مشخص آنهم با کارت های مخصوص و ویژه دعوت شده و با فراموشی غم و درد مردم شهر هرات و هموطنان ما در گوشه و کنار این مرز و بوم، به سرور و شادمانی پرداخته بودند.

تا هنوز حتی مردم در جریان نیستند که مبنای انتخابات ۲۵ حمل به عنوان روز هرات بر اساس چه معیار و اصلی بوده است؛ آیا بر اساس کدام همه پرسی و کدام روز تاریخی هرات بوده و یا با مشورت شخصیت های علمی ادبی این شهر یا هم بر اساس سلیقه شخصی! در این جشن متاسفانه توجهی ارزش های والای دینی نشده بود و با برنامه های موسیقی، فیشن شوی جوانان، پایکوبی و اختلاط زن و مرد همراه بود که جایگاهی در فرهنگ مردم این دیار ندارد.

مدیریت ضعیف و دست و پا شکسته این جشن سبب شد تا حتی عده ای از کسانی که رسماً به این جشن دعوت شده بودند، نیز مورد بی مهری، بی احترامی و حتی لت و کوب قرار بگیرند و نتوانند در این جشن شرکت نمایند.

آنهمه کش و فش و مصروف ساختن ذهنی و روحی مردم برای چند هفته جهت برگزاری چنین جشنی و صرف هزینه های هنگفت اشرافی و اسراف کاری در جامعه ای که درگیر فقر و هزاران مشکلات اقتصادی و امنیتی است، خود جای تأمل دارد.

حال این روز چرا به سوی تکروی، سلیقه های شخصی و قشری شدن گام برداشت و این که چه دستاوردی برای مردم این دیار داشت و چه دردی را از مردم هرات مداوا نمود و چه وجهه ای را از هرات به نمایش گذاشت؛ موضوعاتی است که باید برگزار کننده گان آن به آن پاسخ بدهند!

باید گفت که تجلیل از پیشینه تاریخی و تمدنی هرات امر بسیار بزرگی است که می باید تمام اقشار جامعه و به خصوص نهاد رسمی این ولایت ریاست اطلاعات و فرهنگ در این امر ابتکاری می داشت و حال، در راستای به انحراف رفتن جشن ۲۵ حمل، کوتاهی این ریاست نیز قابل توجه است. امید است تا در سال های آینده مردم هرات شاهد روی دست گرفتن اقدامات اساسی و بنیادین جهت تجلیل از سهم شامخ هرات در تمدن و پویایی فرهنگی و تجلیل واقعی از سوی مسوولین، نهادهای مردمی و مشارکت عمومی باشند.

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعار ما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت در کشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

مرکز تشخیصیه لابراتوار طبی سفیر

Safir Medical Laboratories

لابراتوار طبی سفیر
یک نام مطمئن در عرصهٔ
اجرا معاینات معیاری لابراتواری

Safir Medical Laboratory Diagnostic Center

هرنوع معاینات لابراتواری از قبیل بیوشیمی، سیرولوژی، روتین خون، ادرار، مواد غایطه، TFT,Semin Analysis پتالوژی و کلچر با سامان و لوازم مجهز و مدرن لابراتواری توسط دوکتوران و تکنالوجستهای مجرب با معیارات لابراتواری اجرا میگردد.

آدرس:
کابل، منزل دوم سپین زر پلازه، نزدیک سینما بهارستان کارته پروان.
۰۷۹۹۱۵۲۳۲۹-۰۷۷۲۱۲۸۵۸۳
غزنی: منزل دوم اپارتمان دوم فرخی هوتل بازار صرافی شهر غزنی
۰۷۰۰۹۲۸۴۹۸
لغمان: شهر مهتر لام بابا، مقابل ریاست برق مارکیت حاجی طاؤس
۰۷۹۹۸۷۸۴۲۳ - ۰۷۷۸۴۵۵۷۷۸
Email:
safirlab_kbl@yahoo.com

دکاموي سیاحتي او زیارتي شرکت

AL-KAMAWEE GROUP
KAMAWEE TRAVEL & TOURISM

ویاړي چې خپلو هیواد والو ته د عمرې د سفر اسانتیاوې
په مناسبه بیه او ښو خدمتونو سره وړاندې کړي
او همدا رنګه هر قسم خارجي
او داخلي ټکټونه او د هر
هېواد ویزې په مناسبه بیه
وړاندې کوي

ادرس:
دویم منزل دکان نمبر ۲۵٤
دواد زی تجارتي مرکز کلبهار سنټر ته مخامخ
د خارجه وزارت ترڅنګ. کابل
تلیفون شمېرې: ۰۷۷۷۳۹۰۸۱۹ / ۰۷۸۱۳۹۰۸۱۹

کابل د کارتن جوړولو فابریکه

Kabul Packages

د هر ډول او سایز کارتن جوړونکی

پته: د بګرامیو نساجي فابریکې څنګ ته د کابل د کارتن جوړولو فابریکه
تیلیفون: ۰۷۰۰۲۷۶۱۷۳ _ ۰۷۹۹۳۱۵۸۰۰ _ ۰۷۹۹۷۳۹۵۷۱
E-mail:kabulpackages786@yahoo.com

104.3 FM

رادیو صدای اصلاح

کابل | مزارشریف | کندز | بغلان | جلال اباد

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱٦ ساعت نشرات در شب و روز
شماره تماس: ۰۷۷۳۸۹۰۹۵۰